مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

احمد جان مانو

۲۰۱۹/۰۲/۲۱

# «بوډا» که «بوډا»

## په پورتنیوو دوو لرغونوو آریایي/ پا اچا ایي (پشایي) نومونوو کښی مشر او کشر کوم دی؟

د اورډي مودي راهیسي زما ذهن د (بوډا / بوډی / بوډي) نومونو تخناوورا تخناوو،چې ولي اودخه لپاره !؟ زه هم نه پوهیدم خو، دومره پوهیدم چې، دانوم د پښتواوپشايي ژبوله ادبیاتو برسیره د اردو ژبو په ویوونکو کښی هم شتون لري . ما به تل دځان سره ، دانسان دفزیکي زړښت په اړوند سوچ کاوه اوهغه هم په همدی مانا اومفهوم چې بوډا، بوډی نومونه به هم د انسان دزړښت پوری مناسب فولکلوریک نومونه وي خو، یوه ورځ له ورځومي ، په خیال کښی داسی تیرراتیرشول چې، دا زاړه خو، دیوره ژورو اوکټوروتجربوخاوندان وي ،چې له پیداینښت څخه رانیولي تربوډا اوبوډیتوب پورې ،هغوی دخپل ژوندانه په ټول تیټ اوپاس،لوړواو ژوروو کښی دخپل ژوند د پاینښت اوبقا په خاطر، په میرانه د رنګارنګو سړو تودو سره مخامخ جنګیدلي او د خپل وخت اوزمان د چاپیریال د وژونکو ستونزو په وړاندی نیغ په نیغه، له سترو تاریخي ازموونونوبریالي راوتلي دټولنیزو ناخوالو دپیداینښت څخه رانیولي تربوډا اوبوډی توب پوري لوبیدلي،د یونوي زړیدلي کوچني ، زلمي، ځوان اودپاخه عمرانسان په پرتله یې د ډیروناخوالو،ناتارونو خوند اومزه څکلي وي، باربارتجارب یې ترلاسه کړي وي ، ښه پوخ اوپوه شوی انسان ترې جوړشوی وي، تودو اوسړو پوره ځپلي اوسیځلي وي   پوستکي هډوکي شوی وي ،هرډول تجارب یې په ټولو پنځه ګونو حواسودرک کړي وي ، ځان اوجهان ښه پیژني دهر ډول سوال په وړاندی ځواب ورسره وي ، دخپلو تجروبو پر بنسټ هریوه پوښتونکي ته ، پوره لاربنود ځواب اود ډیروبلا بلا ستونځو د حل کیلي لري، دخپل چا پیر یال په خلکو ګران او د یو رښتیني لاربنود ځای اومقام لري .

په خاص دول د ټولنیزوستونزوپه حل کښی د پلرونواو نیکونوڅخه ورته په پاتي شفاهي میراث اوهغه تجربي یې چی، دخپل ګټورژوند په اوږدوکښی ترلاسه کړي د یوه سترادبي ګټورګنج په توګه، دخپل ځان سره تل نغد اوچغد لري، دخپل ټولنیزارزښتناک ژوند دښه سمون په خاطراودخپل انساني چا پیر یال په ګټه اوفایده ، په ټولنیزومروجو کوچنیوواولویوومرکوو اوجرګو کښی ورڅخه پوره ارزښتناکه ګټه پورته کوي .

لنډه دا چې ، په زغرده ویلی شو چې ، دبشر ننی علمي ،ادبي ،تخنیکي اوهر اړخیز تکامل زمونږد خوارو زارو دتیرواو اوسنیووبوډاګانو دسختو اوتنګودتیرلوستره نخښه نښانه اوبریا ده . وربآندی سترګي پټول ، په حقایقو اعتراف نه کول ورته په سپکه کتل ، پرته له نمک حرامي به بل څه نه وي !
پرته له دی چې څوک د(بوډا،بوډی ،بوډي/ پیر، پیرسال ،ریش سفید ،سرسفید) په معنوي ارزښت او جوهر کوم چې ، د ( بوډا) دزړي (اتوم ) په دننه کښی پروت اوشتون لري وپوهیږي ،لا نه پوهیږي په زړه کښی ورته لږ شانته په ټیټ ارزښت ګوري ، حال داچې بوډا د خپل سترتاریخي ارزښت له مخي دتیر ،حال او راتلونکي تمدن دوصال نه شلیدونکی کړی ده (بوډا / بوډی /بوډي ) هغه څوک دی چې،دخپلې ټولني او د سیمي په تیرتاریخ اوموجودو حوادثواواغیزویي پوره اومکمل سرخلاص وي اود درستي لاربنووني په پایله کښی دخلکو د درناوي وړ ګرزي خو، دخلکو په ذهن کښی هغه دفزیکي پلوه د زاړه اوعمر خوړلي په نوم پیژني خو، هغه مانا اوژور مفهوم چې ، د (بوډا /بوډی) دنامه په دننه ، دهغي په جوهرکښی نغښتي دي، نه پخپله بوډا اوبوډی اونه هم ددغه استعمالوونکی نوی اوځوان نسل ورڅخه اګاهي لري خو ، دنیکه مرغه په ناخبری کښی یې دیوې شتمني ادبي خزاني په توګه کاروي ، حال داچې ،د (بوډا) دنامه په دننه سترمعنوي رازاوارزښت پروت دی چې ، وربآندی پوهیدل اوځان خبرول ضروراواړین دي.
راځئ چې نن په یوه خورا ستر له جوهر څخه ډک ، دیني ،ادبي ترکیبي لرغوني تاریخي د لوړادب په علمي انډیو بار په حیرانوونکي ادبي راز ، سِراوارزښت چې ، د (پا اچا ایي / پشایي ) ،پښتو او اردو ژبو ، د (بوډا ) په نامه کښی نغښتی ځان پوه او د نړی ادب پوهان پرې خبرکړو !



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

اوس چې ،مونږ د(بوډا/بوډۍ ؛ بوډي ) نوم په پشايې ،پښتو او اردوژبوکښی په مشابه اویوشان حروفي اوپه تلفظې شکل کښی ولیده چې ، په دری واړو لوړوآریایې ژبوکښی یودبل څخه توپیراوفرق نه لري اوپه ټولنیز چاپیریال کښی یې په خیالي اومجازي ماناووهم پوه شولو،اوس به راشودنومړي ترکیبي (بوډا ،بوډۍ ؛بوډي ) نوم ته چې، دنامه په( اتم ) کښی یې کومې ماناوې نغښتې اوخوندي دي ،دا چې، په پشايې ،پښتو او اردو ژبو په ادبیاتو اواملاکښی نوموړی نوم د(بوډا) په دود لیکل کیږي خو، که یې لږ تلفظ اواواز ته ښه پام وکړو او ورته ځیرشواصلي اوازیې د (بووډا ) د دوو واونو( وو) په بڼه باید ولیکل شي چې، (بووډا) به یې درست او اصلي بڼه اوشکل وي !

داچې،اوس مونږ د(بوډا) مروج نوم د (بووډا) په بڼه ترلاسه کړښایې چې ، د(ډ) توری په ډیرونوروآریایې ژبو لکه، په پښتو،پشايې ،اردوکښی (ډ) د ژبواصلي توری وي ، خوپه ډیرودلاتین الفبا لرروونکو ژبو رسم الخط کښی دا توری په (ډ/ د) لیکل کیږي لکه ، د حضرت (بوو دا ) پیغمبرپه دیني ،ادبې اوتاریخي نامه کښی چې ، په عربي رسم الخط ژبو کښی هم د (د/ ډ) په تورو لکه، ( بووډا ) او (بوودا) په اشکالو لیدلای ، لیکلاې او لوستلای شو!

له پورتنۍ توضیح څخه دا په ډاګه شوه چې، د(د/ ډ) توري دژبود ځانګړوخصوصیاتو پورې اړه لري اوپه هره ژبه کښی مستقل لغاتونه ، خپلې ماناوې، مفاهیم اوځانګړي اوازونه لري چې،په ځنو ژبو کښی (د / ډ) دواړه په یوه حرف په (ډ ) لیکل کیږي اوپه هره ژبه کښی خپل اوازونه لري .

په هر حال اوس مونږ دوه ، یو او بل ته ورته د (بووډا) او(بوودا) نومونه لروچې، دا دواړه ترکیبي نومونه دلرغونې آریایې (پا اچا ایې ) پشایې ژبې دستر ادب څرګندې نخښې نښانې دي ، په خپل وار سره دهریو تاریخي اوادبي ارزښت توضیح اوتشریح کوو:

۱ـ بوډا (بووډا) : یولرغونې آریایې نوم دی چې ، پشایې انسان اود خپلې پشه یې ژبې ادبیاتو یې، یودبل سره دزمانې په اوږدو کښی خوا په خوا، اوږه په اوږه تکامل کړی اوترننه پوری دلوړادبي ارزښت په درلودلود ګکلیچڼ تاریخ په اوږدو کښی یې دلوړادب اوارزښت سره مل ترمونږپوری ځان رارسولی چې ، زمونږ دګران هیواد لرغوني اریائیان د آریایې /آریک / پشایې ژبې ویوونکي اوهمداشان پښتانه اود اردو ژبې ویوونکي نوموړې نوم لري اود نوموړو ژبو لرغوني ادبیات وربانده ښکلي اوسینګاردي .

۲- بودا (بوُ ودا) دانوم هم دپشایې ژبې یوښکلی ترکیبي نوم دی چې د عربي ژبې په الفبا سره د (د) توری لري اوپه همدی توري لیکل اوتلفظ کیږي خو، په لاتیني الفبا همدا د (د ) توری د (ډ) په توري لیکل اوتلفظ کیږي چې، دانوم هم دحضرت ( بودا / بوډا ) پیغمبرپورې اړوند دی .خو،اصلي تلفظ یې ، چې باید ولیکل شی هغه د( بوُودا) یعنی (بوو = ډیر ،زیات ) اود وهمه برخه یې د (ودا = پوهه ،زده کړه ، علم،دانش ) په بڼه اوشکل باید ولیکل شي چې، توضیح ،تشریح اواصلي مانا یې په لرغونې آریایې ژبه پشایې کښی په دی ډول ده .

- د حضرت (بوودا ) پیغامبرنوم په پشایې ژبه کښی له دوو برخو جوړ شوی دی ، لومړۍ برخه یې د(بوُ، بوو= ډیر، زیات ، بسیار) اودوهمه برخه یې د (وودا/ ودا = پوهه /علم ، دانش) په مانا ده اودپشایې ژبې د خورا لرغوني مصدر(وُدیک = پوهیدل / زده کول / دانستن) له مصدرڅخه د مفردغائب د (وُدا/ وودا / دلویې زده کړې خاوند او پوهې خاوند /دانا ،پوه ) په مانا دی چې ، دژبې دادبیاتو له پلوه ورکی سترعلمي اوادبي مفاهیم نغښتي دي چې د ستر حضرت (بوودا) پیغمبر دشان اوشوکت سره پوره سمون لري .

د (وودا ، وودې ) ښکلي اوبیساري ادبي نوم لا دلرغونوزمانو څخه ترننه زمونږپه آریایې جغرافیه افغانستان کښی په لویه پیمانه په کلیوو اوباندواوپه دیني مدارسوکښی داستعمال ژورې خو،ناپیژندل شوې ریښې لري ، پرته له دی چې ، څوک یې په رښتیني مانا او مفهوم چې، (پوهه ،علم ،دانش ،زده کړه) ده وپوهیږي شتون لري .

دبیلګې په توګه : کله چې یوسپې، مار یا مچۍ ،لړم څوک وداړي او ویې چیچي ،دکورکلي خلک متضرر انسان ته ،دستي لاربښوونه کوي فلاني شخص ته ځان ورسوه چې ، (вووده / وده ،ودا = پوهه ،علم ... ) لري چې ،درته دم یې کاندي انشاالله زرترزره به ښه شي !
دپورتنۍ بیلګې څخه دا په ډاګه کیږي چې ، (وودا ، ودا ، وده ) د ډاکتر، پوهی ،علم ،زده کړې اود دانش مانا لري .یا نورداسی مرضونه اودردونه لکه زیږي ، زخې ،سر درد ،غاښ درد اوډیر نور تکلیفونه چې څوک ولري ،خلک ورته لاربښوونه کوي او ورته وایې چې، ښاغلی ، کاکا ،بابا ،ملا ،پیر ،فقیر .... ته ولاړشئ چې ستا مریضي د ( ودې / وودې ) لاندی ونیسي اوانشا له ښه به شي اوپه مقابل کښی ورته خلک په پوره اخلاص دخپل وس اوتوان په اندازه شکرانې (ګوړه ،شکره ، غله دانې ،هګۍ ....اونن سبا پیسې او نور توکي ،شیان ) ورته په خپله خوښه نزرانه کوي .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له پورتنیووتوضیحاتواوسپاربنتنو څخه دا په ډاګه کیږي چی ، د (ودا ، ودې ) نوم هماغه د لرغونې آریایې ژبې ( پا اچا ایې / پشایې) د (ود یک = زده کول ، پوهیدل ،دانستن) له مصدر څخه په لاس راځي چی ، زمونږ خلک پرته له دی چی د ( ودا ) دنامه دریښې څخه پوهه اواګاهي ولري لا تر اوسه زمونږ دهیواد ، دارىایې ژبوپه ادبیاتو کښی یې ګټور څرک څرګند دی .

دالرغوني دعلم اوپوهې نومونه دلرغونې اریایې زمانې څخه رانیولې تر ننه دهند اواروپایې ژبو مورآریک / پشایې ژبې په ننیوو مروجوادبیاتو کښی ژوندي نومونه دي .

زما په اند دپشایې ژبې په دغوودوو( بوُډا/ بووډا ) او(بُودا / بوُ ودا) ترکیبي تاریخي ادبې نومونو کښی مشر او کشر،مخکښی زړیدلې او ورپسی زړیدلی ترکیبي نومونه دي .

بُوډا / بووډا (زوړ/ مشر/سپین ږیری/ پیرسال ، سال خورده ) دا لرغونې نوم زما په باورلومړنې دی ، دا اصلي ، پخوانې ، مشر، یو ترکیبي نوم دی چی ، ښایې دپشه یې انسان اودهغې دژبې د ادب د پیدایښت اوتکامل سره همزولی او اوږه په اوږه دنوموړې ژبې د زرغونیدښت اود لویښت په لومړیوو ادبي پړاوونو کښی پیل اودپشه یې انسان د ژبې دادبي کیدو اواخلاقي کیدوپه ځانګړو پړاوونو کښی د ډیروتجاربواو از مونونو راوروسته به دا نوم دهغه وخت پشیانو دمشر اوتجربه کار ، پوه او دانا اودیوه لاربنود سړي اوسپین سړې میرمنې ته یې دیوه ستاین نوم په توګه منلی وي.
دبوډا اوبوډۍ دلوړوتجربواود ښولاربنوونو اومرستو په نظر کښی نیولو سره کله چی ،د (بوډا) نوم په پشایې ادبیاتو کښی راتوکیږي ورته پوره د درناوی وړ نوم ګرځي اودخپل هغه ستر ادبې اواخلاقي ارزښت له مخې چی د (بوډا ) نوم یې په خپله تومنه کښی لري ، تر ننه دپوره درناوې وړپاتې کیږي .

برسیره پر لوړو توضیحاتو اوتشریحاتود (وډ /ووډ) کلیمه په پشایې ژبه کښی لکه انګریزۍ دloud کلیمه د(لوړ ،اوچت ،بر ،پاس ،هڅک)په مانا اومفهوم ترننه شتون لري اوپه ادبي اصطلاح کښی د (پوه، دانا ،عالم )په مانا اومفهوم هم استعمالیږي . لکه ( بُو/ بوو= ډیر،زیات) او (وُډ / ووډ = لوړ ،اوچت ،عالم ،دانا، پوه ،تجربه کار) چی په ګډه سره مانایې ( بُو / بوو + وُډ/ بُو وُډ) یعنی : بوو ووډ = دعلم اوپوهی خاوند ). داچی دنوموړي ترکیبي نامه په پای کښی د (ا) توری راځي اوټول غږیز توري یوپر بل اوړي اودنامه شکل اوتلفظ توپیر پیدا کوي او د (بوو وُډ ) څخه (بوُوډا، بُو وډ ، بُو وډې ) جوړوي دا نو، دټولو پشا یې افعالوځانګړی خصوصیت دی چی،ورڅخه صفتي نوم په لاس راځي لکه : شاړ،شاړې = روان شه ، شاړوا = روان ؛تست = ودریږه ، تستوا = ولاړ...!

دټولنې د مینې ، محبت یو والي ، پرمختګ ، یوموټې کیدو د ښیرازیواونیکمرغیوو په نظر کښی نیولو سره دا سترد (بوډا / بوډۍ) ترکیبي ادبي نوم مونږ ته د تیرو نیکونوڅخه په میراث راپاتې دی اود دی ترکیبي نوم دواړه برخې (بوو = ډیر ،زیات ) او(ودا = پوهه ،علم ) ادبې ترکیبي یودبل سره پییلي د یاقوتواوالماسوپه شان ښکلي ادبې ترکیبي غمي دي چی ، دا دواړه (بوډا / بوډۍ) القاب په لرغونې آریایې آریک / پا اچا ایې / پشایې ژبه کښی دخپل لوړ ادبي ارزښت له مخې چی ،لري یې په نوموړې ژبې کښی رواج کړي وي چی ، دا د پشایې لرغونې آریایې ژبې دسترادب زړه پورې اوله درناوي ډک په علمي انډیوو بارنوم دی ، چی لاترننه د ښاغلو پشیانواودهغویود لونوژبوپه ادبیاتو کښی لکه ، پښتو ، اردو اوښایې هم په همدی دیالکتیک اویا په ورته دیا لکتونو کښی په نورو اریایې ژبو ادبیاتوکښی که ځیرنه وشي په ډول له ډولونوبه لکه دقطب ستوری ورکې ځلاند اوبریښناک وي !

باید یادونه وکړم چی ،په پشایې ،پښتو اودري ژبو په فولکلوریکوادبیاتو کښی لا تر ننه د(بووډا /بوډا) دنامه د (بود / بودې = ګټور ،فایده من ،ښه ،دانا ،پوه .... ) او(نابود = بې ګټې ، بی فایدی ،ناښه ،نادان ،ناپوه ) کلیمه شتون لري چی ،په لاندی مثالونو کښی به یې په لنډ ډول توضیح کړم .

غنم خان پوره د (بودې) سړی دی ؛ دغنم خان څخه یوڅه ( بُود ) کړه.! په ادم خان کښی (بوده ،بُودا) نشته ! یا : غنم خان د(بودې ) سړی نه دی ، هغه ډیر (نابُود،نابوده ، نابُودا) سړی دی !.
په پورتنۍ جمله کښی د (بُود ، بُودې ،بُوده ، بُودا = فایدی ،ګټې ،حاصل ،ثمر ) په مانا ده خو، ښه اوبد یې د(نفی =نه ،نا ) دکلیمې په مرسته اواستعمال توضیح اوتشریح کیږي .

## نتیجه:

۱ـ دا چی ، د (بُوډا /بووډا = زوړ،سپین ږیری ،سپین سړې، پوه ،هوښیار ،تجربه کار.... ) ترکیبي نوم د لرغونې زمانې څخه رانیولې ترننه ، د پشایې ژبې په ادب کښی دپشایې ادبیاتو د ودې سره مل اوملګرې سینه په سینه اوپه شفاهې ادب کښی اوږه په اوږه اوخوله په خوله ترمونږه رارسیدلی ،همدا اوس چی ، دا لیکنه کیږي یو ژوندۍ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اونومیالی نوم دی اودخپل تاریخي ، ادبي اوعلمي ارزښت اوقوت له مخي چی ، دځان سره په خپل زړي کښی لري اوس هم په پشایي ، پښتو ، اردو ژبو کښی دځلاند ادبي ستوري په شان شتون لري ، ښایي په نورو هند اوآرپایي ژبو د ستر کهول په ژبو کښی یي هم په شکل داشکالو، څرک شتون ولري .

۲ـ د (بُوډا ) دنامه سره په ورته بڼه یوبل تاریخي نوم د حضرت (بُودا ) پیغمبر (سیدراتا گوتاما ) روحاني نوم دی په بڼه اوشکل کښی شتون لري .که په لاتیني الفبا یي ولیکو ورڅخه Buda لاس ته راځي ، دلاتین (بُودا ) اودعربي ژبي په الفبا (بُودا ) کښی د تلفظ له مخي هم توپیر اوفرق نشته اوکټ مټ سره یوشی دي. خو،دومره باید ووایم چی د (بودا) کلمه د (بوو دا ) د دیانت د ستر پیغمبر یوروحاني لنډ نوم دی چی ، په همدی لنډ نوم اوتخلص یي بودیستان پیژني اوځانونه په ویاړ (بودایي / بودایان) بولي .

دیورتني شنني اوارزوني هدف دا دی چی د پشایي ژبي د( بوډا ) نوم لرغوني ،پخواني اومشردی اووروسته همدا نوم دخپل علمي اوادبي ارزښت ، دمعناوو اومفاهیمو له مخي چی، په ختٰه کښی یي درلود حضرت (بودا ) پیغامبربه دځان لپاره خوښ کړی اوټاکلی وي ، ښایي چی دحضرت (بودا) د دین دخپریدولا دمخه، پشه یي ژبه ،به دهماغه وخت دسیمي دخلکو یوه ژوندۍ ، رسمي اواغیزناکه ژبه به وه .

په درناوي .
احمدجان مانو
دنمارک ، اودنسه .
۲۰۱۹ کال جنوری .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولۍ